عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰٤/۱۳

# ښځه یم کمزورې نه یم

ز‌ه نغمـــه یمـــه د مینـــي ز‌ه زینـــت د دې جهـــان یـــم
ز‌ه همزولـــې د ښـــکلا یـــم ز‌ه لـــه مینـــي د ســـبحان یـــم
چـي ز‌ه نـه یـم رنـګ بـه نـه وي چـي ز‌ه نـه یـم هنـر نسـته
چـي ز‌ه نـه یـم هسـتي ختمـه چـي ز‌ه نـه یـم بشـر نسـته
ز‌ه خـــالق د هـــری مینـــي ملکـــه د هـــر داســـتان یـــم
ز‌ه همزولـــې د ښـــکلا یـــم ز‌ه لـــه مینـــي د ســـبحان یـــم
هغـه ز‌ه یـم چـي پـه غېږ کـي افلاطـون مـي دی روزلـی
هغـه ز‌ه یـم چـي پـه تـال کـي پیغمبـر مـي زنګـولی
پـر نـړی چـي هـر لـوی نـوم دی هغـه مـا دی زېږولـی
معجـــزه د اســـمانونو لـــه یزدانـــه تـــر انســـان یـــم
ز‌ه همزولـــې د ښـــکلا یـــم ز‌ه لـــه مینـــي د ســـبحان یـــم
هغـه ز‌ه یـم چـي پـه مینـه مـي فرهـاد سـوري کـول غرونـه
کرشـــمه ده زمـــا د حســـن چـــي جـــوړیږي محلونـــه
زمـــا د حُســـن لـــه بغـــداده رنګـــین ســـوي دي نکلونـــه
زمـــا پـــه یـــاد دي ځرځېـــدلي بـــې حســـابه قلمونـــه
هغـــه ز‌ه یـــم چـــي بلبـــږم لـــه پتنـــګ ســـره پیمـــان یـــم
ز‌ه همزولـــې د ښـــکلا یـــم ز‌ه لـــه مینـــي د ســـبحان یـــم
پنجـــرې دي  د فـــولادو زمـــا وزر تـــه نـــه ټینګیـــږي
د یـــاجوجو د مـــاجوجو دېوالونـــه بـــه نړیـــږي
د تیـــارو د شـــیطان غرونـــه یـــو پـــه بـــل پســـي ړنګیـــږي
شـــپه کـــه هـــر څـــومره اوږده ســـي عاقبـــت بـــه ســـبا کیـــږي
دې ویالـــه کـــي اوبـــه تللـــي ســـبا بیـــا پکښـــې بهیـــږي
ز‌ه خـــالق یـــم را لیږلـــې ز‌ه مـــي زېـــری د یـــزدان یـــم
ز‌ه همزولـــې د ښـــکلا یـــم ز‌ه لـــه مینـــي د ســـبحان یـــم
ز‌ه د خپـــل وجـــود پـــه وینـــو دلتـــه شـــمعي بلومـــه


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

زه پخپلو وزرونو د تیارې پلو څیرمه
زه پانوس غوندي بلېږم دا تیارې رڼا کومه
معجزه د خپل خالق یم منترونه ماتومه
زه د جهل ځنځیرونه د زمان کندي ته وړمه
په خپل زور په خپل تدبیر مي خپل تقدیر ځانته لیکمه
زه جلوه د کردګار یم زه قاتله د شیطان یم
زه همزولې د ښکلا یم زه له میني د سبحان یم
بیا به زه بیا به ګودر وي بیا دښتونه مستومه
د ادم د رباب سور ته پایزېبونه شرنګومه
د کیږدۍ تر ماښامونو د ګودر ترانې وړمه
له لنډیو کفنونه محتسب لره ګنډمه
په قدم د سپېلني به د رڼا پر لوري ځمه
د جاهل په هدیره کي د مکتب خښته ایږدمه
له خالقه رڼا اخلم ورځي شپو ته ورکومه
د سیالانو په ټولۍ کي قافلې روانومه
ګړندي مي دي ګامونه زه سرلارې د کاروان یم
زه همزولې د ښکلایم زه له میني د سبحان یم

د ۲۰۲۲ کال د اپریل یوولسمه، ویرجینیا.



برای مطالب دیگر عبدالباری جهانی روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com